# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# نېک سامری



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.





استاذه! د همېشه ژوندون حاصلولو د پاره زۀ څۀ وکړم؟ چا چې دا تپوس کړے وو نو د هغه شرعي عالم وو. او عیسی د راګېرولو کوشش یې کولو.

عیسی مسیح هغۀ له جواب ورکړو، چې خدائ پاک شعریت څۀ وائی؟


هغه سړی جواب ورکړو. په شریعت کښې
وئیلے شوی چې خدائ پاک سره
په پوره زړهٔ او پوره یقین او
طاقت سره مینه ساتئ، او خپل
ګاونډی سره د خپل ځان
په شان مینه
کوئ.
هغه سړی تپوس وکړو،
نو زما ګاونډی څوک دے؟
3
هغه سړی د جواب ورکولو د پاره عیسی مسیح هغهٔ ته یوه
قیصه وکړه چې یو سړی د یروشلم نه یریحو ته په
سفر باندې روان وو.
نو ډاکوانو په هغهٔ
باندې حمله وکړه.
4
نو ډاکوانو هغه راګېر کړو کپړې یې ترې وویستلې،
او وې وهلو او مرګ حال یې پرېښودلو. هغوئ
هغه ډېر زخمی کړو او د سړک په
غاړه یې پرېښودو.
5
نو اتفاقی په دغه وخت کښې یو امام په
دغه لار باندې تېرېدهٔ، نو یقیناً ؛ې هغه
به د دې زخمی کس مدد
کوی.
خو نه چې هغهٔ هغه
کس
ولیدو نو هغه ترې د لارې بل
طرف ته واوړېدو او ترې نه لاړو.
6
هم دغه شان یو لیوی هغه ځائ ته راغلو چا چې به د
امامانو خدمت کولو. او چې هغه زخمی سړے یې
ولیدلو نو بل طرف ته ترې نه واوړېدو
او دے هم په مخه
ترې لاړو.
7
بیا یو سامری مسافر د هغه ځائ نه تېرېدو، یهودیانو خلقو
چا چې د عیسیٰ مسیح نه قیصې اورېدې نو
هغوئ به یو سامری کس بهادر نهٔ منی.
خو هغه وو.
سامری د هغهٔ خیال وساتلو او مدد د پاره ئې ودرېدو.
8


هغه سامری ورتیټ شو،
او د هغه کس زخمونه
یې ووینځل او پټۍ یې
ورله وکړه، او بیا یې
هغه په خپل څاروی
باندې سور کړو.
9


سامری هغه زخمی سړے یو سرائې ته
بوتلو او هلته کښے یې ټوله شپه د هغهٔ
خدمت وکړو.
10


بیا په بله ورځ سحر هغه د سرائې مشر له
دوه دیناره ورکړل او ورته یې ووئیل چې
د دې کس خیال ساته.
11


نو کله چې دا قیصه ختمه شوه نو عیسی
مسیح د هغوئ نه تپوس وکړو. چې د هغه
زخمی سړی
ګاونډی
څوک وو؟
12


نو د شرعي عالم ورله
جواب ورکړو، چې د هغهٔ
ګاونډی سامری وو چا چې
په هغهٔ باندې رحم وکړو.
13


عیسی ورته ووئیل چې لاړ شه او ته هم دغسې کوه لکه چې
هغهٔ وکړل. او زمونږ ګاونډیان هغه دی څوک
ضرورت مند دی، چې
مونږ د ضرورتمندو خلقو
مدد کوو نو دا مونږ
هغوئ ته خپله مینه
ښایو. او په دې
باندې خدائ پاک هم
خوشحالیږی.
14

نېک سامری

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

لوقا ۱۰

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

15




46 60

16

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

17